**مطبوعاتي اعلاميه**

# د امریکا نوې ستراتیژي؛ په افغانستان او جنوبي آسیا کې د جګړې او کړکېچ دوام

ټرمپ له اتو میاشتو سختو کورنیو اختلافاتو وروسته د افغانستان په هکله د امریکا نوې ستراتیژي اعلان کړه.

**د حزب التحرير ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** د امریکا په نوې ستراتیژۍ کې د هغې له پخوانۍ ستراتیژۍ سره کوم ځانګړی توپیر نهویني. څکه دا ځل امریکا په ډاګه د افغانستان ستراتیژي له جنوبي آسیا سره د امریکا د ستراتیژۍ په رڼا کې اعلان کړه او دا رسماً په دې دلالت کوي چې امریکا د افغانستان له بې ساري جیوپولټیک موقعیت څخه په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو او استعماري موخو د تعقیب لپاره د پوځي اډې او جنګي پروژې په توګه کار اخلي. همداراز ټرمپ په افغانستان کې د امنیت راوستلو لپاره د هند د رول پر پیاوړي کېدو ټینګار وکړ، چې دا خپله په افغانستان کې د امریکا، هند، پاکستان، ایران، چین او روسیې تر منځ د نیابتي جګړې د لاګرمېدو خبرداری ورکوي.

ټرمپ د بوش او اوباما د دروغو پر خلاف ښکاره وویل چې زموږ وسله وال ځواکونه به د نورو د ملت جوړونې لپاره نه کارول کیږي، بلکې دا خپله د افغانانو کار دی چې څنګه له ګډ دښمن سره جګړه وکړي، خپل اقتصاد پیاوړی کړي او خپل راتلونکی جوړ کړي. مګر تر دې وړاندې امریکا افغانستان له «ترورېزم» څخه دخلاصون، ملت جوړونې، دولت جوړونې، بشري حقونو او غوره حکومتولۍ تر پلمو لاندې اشغال کړ.

**حزب التحرير ولايه افغانستان** د امریکا او ناټو د دغو غولوونکو شعارونو له حقیقت څخه په وار-وار خپل ولس ته خبرداری ورکړی و او دا دی اوس خلکو د دې عصر د دجال «ټرامپ» له خولې په خپلو غوږونو واورېدل، چې هغوی افغانستان ته زموږ د هوساینې، ملت جوړونې، ډموکراسۍ او بشري حقونو لپاره نه، بلکې په خپلو ناوړه استعماري موخو او ګټو پسې راغلي او لاسپوڅی افغان حکومت او مزدور چارواکي یې یوازې د ګټو د تامین موقتي وسایل دي.

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**